# الله - جل جلاله - ته تر ټولو محبوبې ويناوې څلور دي: سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ، دا مهمه نده چې تاسو په کومه یوه پیل کوئ

له سمرة بن جندب رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: "الله - جل جلاله - ته تر ټولو محبوبې ويناوې څلور دي: سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ، دا مهمه نده چې تاسو په کومه یوه پیل کوئ".
[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې الله جل جلاله ته تر ټولو محبوبې ويناوې څلور دي: سبحان الله: دا له هر نیمګړتیا څخه د الله تعالی پاکوالی دی. او الحمد لله: دا په بشپړ کمال سره د الله تعالی يادول دي؛ د هغه له محبت او لويي سره. او لا إله إلا الله: یعنې دا چې له الله پرته په حقه بل معبود نشته. او الله أكبر: یعنې تر ټولو لوی او تر هر شي عزتمن ذات دی. او دا چې فضيلت او د ثواب ترلاسه کول يې په ترتيب سره تلفظ ته اړتیا نه لري.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee